# افغانستان

## د ۲۰۱۵ نیم کلن راپور

## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه



رویټر / ۲۰۱۵ ©


د بشري حقونو لپاره دملګرو ملتونوعالي کمیشنرۍ دفتر

دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

کابل ، افغانستان

اګست ۲۰۱۵

AFGHANISTAN ADMINISTRATIVE DIVISION




Source: UNAMA GIS January 2012

# افغانستان

# د ۲۰۱۵ نیم کلن راپور

# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه

**د بشري حقونو لپاره دملګرو ملتونوعالي کمیشنرۍ دفتر**

**دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی**

**کابل ، افغانستان**

**اګست ۲۰۱۵**

په لومړۍ صفحه د © د رویتر/۲۰۱۵ عکس. یو سړی د ننګرهار ولایت ، د جلال په ښار کې د ۲۰۱۵ کال د اپریل په ۱۸ نېټه د یو ځانمرګي برید وروسته یو ټپي ماشوم سره مرسته کوي ، پېښه کې ۱۵۸ ملکیانو ته تلفات ( ۳۲ وژل شوي او د پنځه ماشومالنو په ګډون ۱۲۶ تنه ټپي شوي ) اړولي وو. عکس د ۲۰۱۵ کال د اپریل په ۱۸ مه اخستل شوی دی.

د ۲۰۱۵ کال د اپریل د ۱۸ نېټې انځور

یوناما په ملکي تلفاتو کې ۷۸ سلنه زیاتوالي مستند کړی ، چې د ۲۰۱۵ په لومړۍ نیمه یې کې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي.

**"یوازې د ملکي تلفاتو ارقام په افغانستان کې د تاوتریخوالي ویره ، د ماشومانو ، میندو ، خویندو ، زامنو او پلرونو ټوټه ټوټه جسدونه په بسیا ډول نه شي منعکس کولی. په دې راپور کې راغلې ارقام غمجنې کورنۍ او د غم ځپلو عادي افغانانو زیانونه نه شي په ډاګه کولای. دغه ټولې ناخوالې په افغانستان کې د جګړو حقیقې پایلې دي."**

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منیشي ځانګړی استازی ، نیکولاس هیسم ، کابل ، اګست ، ۲۰۱۵

**" دا په افغانستان کی د ملکي وګړو د اوږدو مصیبتونو په اړه یو بوګنونکی او زړونو ته ټکان ورکونکی راپور دی چې له وسله والی جګړې څخه په پرله پسې ډول ځورېږی او د نا امنۍ او بې باورۍ په داسی فضا کی ژوند کوي چې نه پوهیږی بانک ته ،د خیاطی کورس او یا د واده کومو مراسمو ته به د دوی ورتګ وروستی ځل وي او که نه. "**

**د نړیوالو بشري حقونو او د بشر پالنې د نړیوال قانون څخه د سختو سرغړونو په وړاندې معافیت په افغانستان کی اوږد مهاله سابقه لري او د تاوتریخوالی دا لړۍ اور ته لمن وهي. د دې زهرجنې لړۍ د پای ته رسولو په موخه دې ته اړتیا شته چې د احتساب په اړوند چټک او مشخص ګامونه پورته شي. "**

د ملګرو ملتونو د بشری حقونو عالی کمیشنر ، زید رعدالحسین ، ژنیو ، اګست ، ۲۰۱۵

## صلاحیت/واک

په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړوند دغه د ۲۰۱۵ کال شپږ میاشتنی راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا چمتوشوی دی چې د دې کال د جنورۍ د لومړۍ څخه د جون تر ۳۰ مې نیټې پورې موده رانغاړي.

دغه راپور د یوناما د هغه صلاحیت له مخې چمتو شوی دی چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا د ۲۲۱۰ /(۲۰۱۵) پریکړه لیک په اساس ورته ورکړل شوی "څو د ملکي وګړو وضعیت وڅاري ، د دوي د ساتنې د باوړ کیدو په موخه هڅې همغږې کړي ، حساب ورکول تقویه کړي او د بنسټیزو ازادیو او بشري حقونود احکامو ، چې د افغانستان په اساسي قانون او په نړیوالو تړونونوکي ، چې افغانستان یې غړیتوب لري تسجیل شوي دي په بشپړ ډول پلي کېدو کې مرسته وکړي ، په ځانګړي ډول د هغو احکامو په پلي کولو کې مرسته وکړي چې د ښځو له خوا د هغوي له ټولو حقونو څخه د برخمن کیدو سره تړاو لري."

د امنیت د شورا ۲۲۱۰ (۲۰۱۵) پریکړه لیک ،په افغانستان کې د وسله والو شخړو په ترڅ کې د ملکي وګړو د وضعیت او په ځانګړې توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړوند روانې څارنې او راپوروركونې ته اهمیت ورکوي .

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه: په خپلواکه او بې پلوه ډول د داسې پیښو څارنه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي ؛ په وسله والو جګړو کې د زیانمن شویو ملکي وګړو د ساتنې د تقویې په موخه ملاتړ ؛ او د داسې نوښتونو پیل چې د نړیوالو بشري حقونواود بشر پالنې د نړیوال قانون او د افغانستان د آساسي قانون اونورو قوانینو سره په سمون کې وي او په جګړه کې د ټولو ښکیلو خواوو له لوري یې رعایت وشي.

دا راپور د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ دفتر (اوایچ سی ایچ آر) له خوا بیا کتل شوی او د هغه له تخنیکي معلوماتو څخه برخمن شوی دی.

## میتودولوژي

یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې راپورونه تر هغه ځایه چې ممکن وي د مرګ ژوبلې په سیمه کې څیړې ، له مختلفوسرچینو سره سلا مشوره کوي او د معلوماتو بیلا بیل ډولونه راغونډوي چې د اعتبار او رښتینتوب له مخې ارزول شوي وي. یوناما د هرې پیښې په څیړنه او تحلیل کې زیاته هڅه کوي ، چې د امکان تر حده پورې له مختلفو منابعو څخه راټول شوي معلومات او نظریات کره او کنټرول کړي ، لکه د عیني شاهدانو ، قربانیانو او په مستقیم ډول د زیانمنو شویو وګړو ، د نظامي برخه والو (د افغانستان د حکومت او نړیوال نظامي ځواکونو او د دولت عناصرو په ګډون) ، د ځایي کلي / د ولسوالۍ او ولایت چارواکو ، مذهبي او د ټولنې د مشرانو او نورو برخه والو بیانونه.

معلومات له داسې سرچینو څخه لاس ته راځي لکه په مستقیم ډول له ساحې څخه کتنې ، د پیښو له ځای څخه د لاس ته راغلیو جنسونو او شواهدو فزیکي آزموینه ، له روغتونونو او روغتیایي مرکزونو څخه کتنه ، ویډیویي او د محل څخه انځورونه ، د ملګرو ملتونو د امنیت او مصوونیت د څانګې او د دې سازمان د نورو ادارو راپورونه ، د دوېیم لاس سرچینو بیانونه او هغه معلومات چې د نادولتي موسسو او نورو درېیم لاس سرچینوله خوا را غونډ شوي وي.

د ملکي تلفاتو د هرې ځانګړې پیښې د کره کولو لپاره یوناما لږ ترلږه درې ډوله سرچینو ته اړه ده لکه قرباني ، شاهدان ، طبي پرسونل ، ځایي چارواکي ، په جګړه کې دښکیلې له لوري تایید ، ځایي مشر یا نورې سرچینې. ترهغه ځایه چې ممکن وي ، تحقیقات د قربانیانو یا د حادثې د عیني شاهدانو په مستقیم شهادت او د پیښې د ځای په پلټنو ولاړ وي. په ځینو وختونو کې ، د پیښې ځای ته د امنیتي ستونزو له امله لاس رسی محدود وي ، او دغه ډول تحقیقات ممکن نه وي ، په داسې وختونو کې یوناما یو لړ تخنیکونه کاروي چې د امکان تر بریده د پراخه معتبرو شبکو څخه معلومات تر لاسه کړي اوداعتبار اوباور له مخې یې کره کړي.

کله چې یوناما د یوې پیښې په اړه د معلوماتو د کره والي څخه ډاډمنه نه وي د هغې پیښې په اړه راپور نه ورکوي. په ځینو قضیو کې تحقیقات ښایي مخکې له هغه چې نتیجې ته ورسیږي ځواونۍ وخت ونیسي. دا په دې معنی ده چې د ملکي تلفاتو په اړه نتیجې ښایي چې بیا نوې شي ځکه چې نوي معلومات را رسیږي او په تحلیل کې ورڅخه کار اخیستل کیږي . په کوم ځای کې چې معلومات ښه څرګند نه وي تر څو چې معتبراو قناعت بخښونکي شواهد لاس ته نه وي راغلي نو نتیجه ګیري تر هغو نه کیږي څو پورې چې د قناعت وړ شواهد لاس ته راشي د پایلو پرته قضیه تړل کیږي او احصایوي راپور کې د هغې خبر نه شاملیږي.

د ځینو پیښو په راپور کې د قربانیانو ملکي هویت (موقف) په بشپړ ډول نه شي ثابتیدلای او یا لانجمن ټکي وي ، په داسې قضیو کې یوناما د بشرپالنې د نړیوال قانون معیارونه په پام کې نیسي او داسې نه ګڼي چې د جنګ لپاره د عمر په لحاظ برابر نارینه جنګي یا ملکي کس دی . بلکه دا ډول ادعاګانې په پیښې پورې د اړوندو حقایقو پر بنیاد ارزول کیږي. که چېرې د یوه یا څو قربانیانو هویت څرګند نه وي ، د وژنې یا ژوبلې دغه ډول پیښې د ملکي وګړو د تلفاتو په عمومي شمیر کې نه شاملیږي.

په وسله والو شخړوکې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د راپور ورکولو او تحلیل د تقویې لپاره یوناما په ۲۰۰۹ کال کې یو بریښنایي ډیټابیس پرانیست. ډیټابیس داسې طرح شوی دی چې د معلوماتو سیستماتیکه ، یوشان او اغیزمنه ټولونه او تحلیل اسانه کوي ، چې د جنس ، عمر ، مرتکب ، تاکتیک ، وسله او نورو کټګوریو په لحاظ د معلوماتو ویشل او تحلیل هم په کې شامل دي.

څنګه چې په جګړه کې ډېرې خواوې شاملې دي ، یوناما تر ممکنه بریده هڅه کوي چې د ملکي مرګ ژوبلې پیښې کره او مسؤول لوري په مشخصه توګه په ګوته کړي ، د بیلګې په توګه طالبان یا افغان ملي اردو. د عملیاتو له ډګر سره د اړوندو محدودیتونو له امله لکه د ځینو نظامي عملیاتو ګډ ماهیت ، او په ځینو پیښو کې د لومړنیو سرچینوپه دې کې پاتې راتلل چې د ګڼ شمیر نظامي فعالینو یا شورشیانوپه منځ کې توپیر وکړي یا داسې حالات چېرې چې هیڅ اړخ د یوې پیښې مسوولیت نه مني ، ممکنه نه ده چې کوم مشخص نظامی لوري ، امنیتي ځواک یا یاغي ډله د مشخصو ملکي تلفاتو لپاره مسوول وګڼل شي. یوناما د ملکي تلفاتو د هرې پیښې لپاره دولت پلوه یا دولت ضد عناصر مسوول ګڼي.


د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ځمکنیو نښتو په مهال چې کله ملکي تلفات یو لوري ته هم منسوب کیدای نه شي ، نو یوناما داسې پېښه په یوه جلا کتګورۍ کې چې دولت پلوه ځواکونه او دولت ضد عناصر نومیږي ثبت او دواړو ډلو ته یې منسوبوي. یوناما ادعاء نه کوي چې په دغه راپور کې احصایې بشپړې دي ؛ د کار په چاپیریال کې د محدویت په نظر کې نیولو سره کیداي شي یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلي پوره راپور نه وي ورکړی.

***لنډيز***

د سړک پر غاړې روان وم چی يو ځانمرګي د نوی کابل بانک پر مشتريانو باندې چی د ننوتلو په ليکه کې يې انتظارايست ، بريد وکړ. هغه چاودنه او دړزې ماته يادې دي او زه يې پر مځکې راګوزار کړم. زما مخ ، خيټه اوپښې خوږ شوې او وينې ترې روانې وې. کله چې ما هڅه وکړه چې په خپلو پښو ودريږم ، خو ما ونه شو کولای چې را جګ شم. په دې وخت کې زما پام پر سړک باندې د وينو ، د خلکو د بدن د ټوټو او د مړو خواته شو. دا ډيره هيبتناکه صحنه وه. زما اوه لونې او يو زوی دی. زه له مرګه نه ويريږم ،خو که زه مړ شم ، زما په ماشومانو به څه تيريږي ؟[1]

*د يو ښوونځي ښوونکي چی د اپريل په ۱۸ مه ، د ننګرهار ولايت د جلال آباد ښار په ځانمرګي بريد کې ټپي شوی و ،چی په دې بريد کې۱۵۸ ملکی تلفات ( د پنځو ماشومانو په شمول ۳۲ مړه او ۱۲۶ ټپيان) را منځته شوي وو.*

د ۲۰۱۵ کال په اولو شپږو مياشتو کې ، د وسله والې جګړې پايلو په افغانستان کې ملکي وګړي ډير اغيزمن کړي دي. د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د لومړۍ نيټې څخه د جون تر ۳۰مې پورې[2] ، يوناما ۴،۹۲۱ ملکی تلفات (د ۱،۵۹۲ ملکي وګړو مړينه او ۳،۳۲۹ ټپي کيدنه) ثبت کړي دي ، چی د مړو په شمير کی شپږ سلنه کمی او د ملکی وګړو په ټپي کيدلو کې څلور سلنه زياتوالی په ګوته کوي. چی دا شمير د ۲۰۱۴ کال[3] د شپږو لومړنيو مياشتو په پرتله په مجموعی توګه د ملکی تلفاتو يو سلنه زياتوالی ښيي ، او همدارنګه د همدې مودې په پرتله په تيرو کلونو کې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه شميره ده. د ۲۰۰۹ کال دجنورۍ د لومړۍ نيټې څخه د ۲۰۱۵ د جون تر ۳۰ نيټې پورې ، يوناما ۵۲،۶۵۳ ملکي تلفات (۱۹،۳۶۸ مړينې او۳۳،۲۸۵ ټپيان) ثبت کړي دي.




---

[1] د ۲۰۱۵ کال د اپريل په ۲۶مه ، د جلال آباد ښار ، د ننګرهار ولايت ، د جلال آباد د عامې روغتيا په روغتون کی د يو قربانی سره ، د يوناما مرکه.

[2] په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړوند د ۲۰۱۵ کال شپږ مياشتنی راپور د دې کال د لومړنيو شپږو مياشتو احصايه د ۲۰۱۴ کال د لومړيو شپږو مياشتو له احصايې سره پرتله کوي. په هرکال کې د همدغو شپږو مياشتو موده د دې لپاره کارول شوې څو کال په کال د جګړو د موسم يو کره مقايسوي تحليل تر لاسه شي.

[3] د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د لومړۍ نيټې څخه د جون تر ۳۰مې پورې ، يوناما ۴،۸۹۴ ملکي تلفات مستند کړي(۱،۶۸۶ مړي او ۳،۲۰۸ ټپيان).

د ۲۰۱۵ کال په لومړنیو شپږو میاشتو کې د وسله والې جګړې له امله د زرګونو ملکي کسانو مړینه او ټپي کېدنه ، د جګړې د ښکیلو خواوو له طرفه د ملکي کسانو د خوندیتوب دوامداره ناکامي په ګوته کوي. یوناما پردې باندې په مکرره توګه ټینګار کوي ، چې د بشرپالنې د نړیوال قانون د جګړې د ښکیلو خواوو څخه غوارې چې د ملکي خلکو د خوندیتوب لپاره کلک اواغیزمن ګامونه واخلي. د جګړې د ښکیلو خواوو تر منځ مخامخ څمکنۍ نښتې په دوامداره توګه د زیاتوملکي تلفاتو لامل دي ، اوځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي د ملکي تلفاتو بل لامل دی ،که څه هم په مجموعي ډول یوناما ددې دواړو پیښو له امله په ملکي تلفاتو کې عمومي کمښت ثبت کړی دی.

د ۲۰۱۵ کال په لومړنیو شپږو میاشتو کې ، په مجموعی توګه د ملکي تلفاتو د لوړوالي لاملونه د د دولت ضد عناصرو له خوا پیچلي ډله ییز[٤] او ځانمرګي بریدونه اوهمدارنګه هدفی او قصدي وژنې وې. ځان وژونکي او ډله ییز بریدونه چې ډیری وخت د ګڼې ګوڼې په سیمو کی پیښیږی ، تقریبا د هغو بریدونو څخه چې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکیو توکو څخه ، چی د ملکي تلفاتو دوهیم محکښ لامل دی ، زیات شوي دی. که څه هم هدفي وژنې د ټولټال ملکي وګړو د مړینې او ټپي کیدلو څلورم لامل بلل کیږي ، د ۲۰۱۵ کال په لومړنیو شپږو میاشتوکې هدفي قتلونه د ملکي وګړو د مړینې مخکښ لامل بلل کیږی.

### د ملکی تلفاتو د مسوولیت نسبت ورکول

یوناما د ملکی تلفاتو ۷۰ فیصده د دولت ضد عناصروته[٥] او ۱۶ فیصده یې د دولت پلوو ځواکونو[٦] ته منسوب کړي دي (۱۵ فیصده افغان امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو او یو فیصد یې نړیوالو ځواکونو ته). د ټولو ملکي تلفاتو لس فیصده د دولت ضد عناصرو او د افغانستان ملی امنیتي ځواکونو د مخامخ څمکنیو نښتوله امله منځ ته راغلي او پره یې پرکومې ځانګړې ډلې نه ده اچول شوې . یوناما د ملکي تلفاتو څلور فیصده[٧] د جګړې له امله پاتې شوي ناچاوده توکو ته منسوب کړې ده.[٨]

---


[٤] *د یوناما په اند ، دډله ییز برید تعریف د آګاهانه او هدفی برید څخه اخیستل شوی تعریف دی چی د ځانمرګی برید ، د یوه نه زیات بریدکونکی د یو ډول برید نه زیات او د یو توکی نه زیات کارول شوي توکي . تول ، دری ډوله عناصر باید یوځای استعمال شي تر څو یو برید ډلیز وبلل شي*

[٥] د دولت ضد عناصر ټول هغه کسان او ګروپونه دي ، چی په وسلواله جګړه کې د وسله وال مخالف په توګه د افغانستان حکومت اونړیوالو ځواکونو په مقابل کې جنګیږي. دوي هغه کسان دي چې د طالبانو په شمول همدارنګه غیر دولتي سازمان لرونکي وسله والو ګروپونو چې په وسله واله جګړه کې بوخت دي او په مختلفو نومونو لکه د حقاني شبکه ،حزب اسلامي ، د ازبکستان اسلامي غورځنګ ، جهاد اسلامي اتحاد ،لشکر طیبه ، جیش محمد ګروپونه او همدارنګه نور پیژندل شوي ګروپونولکه د داعش ګروپ او نور ملیشه ګروپونه چې د سیاسي ، عقیدوي ، اقتصادي هدفونو لکه جنایتکاره ګروپونه چې په جګره کې په مستقیمه توګه ښکیل او د جنګ استازیتوب کوي ،شامل دي.

[٦] د دولت پلوو ځواکونو لفظ هغو کسانو ته مشمول دي چی د افغانستان امنیتي وسلوال ځواکونو او نورو ګروپونو په شمول ،د شورش ضد عملیاتونوکې په مستقیمه او غیرمستقیمه توګه د افغان دولت تر کنترول لاندې بوخت د ي. دا ګروپونه شامل خو محدود په افغان ملي پوځ ، افغان ملي پولیس ، افغان سرحدي پولیس ، د ملی امنیت ځواکونه او افغان سیمه ییز پولیس چی د افغانستان تر قانوني ساختار لاندې کار کوي ،ندي ، او دولت پلوه وسلوال سیمه ییز وسله وال او ملیشې چې د افغانستان قانون کی کوم بنسټ نلري او د رسمي او پوځي ادارې لاندې عملیات نکوي ، ویل کیږي. دا تعریف همدارنګه دنړیوالو ځواکونو ، استخباراتي او امنیتي ځواکونوته هم صدق کوی. دډیرو تفصیلاتو لپاره د تفصیلاتوبرخې ته مراجعه وکړی

[٧] یوناما تر نیم سلنه لږ ملکي تلفاتو پړه د پاکستان لخوا پر افغانستان باندې د راکټی بریدونو باندی اچوي

[٨] له جګړې پاتې ناچاوده توکي چې کومې ځانګړي ډلې ته نه منسوب کیږي او یا له پخوانیو جګړو څخه پاتې شوي ناچاوده توکي.





د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه د جون تر ۳۰ مې نیټې پورې ، یوناما ۳،۴۳۶ ملکی تلفات( ۱،۲۱۳ مړي او ۲۲۲۳ ټپیان) چی د دولت ضد عناصرو په عملیاتو او بریدونو کې چی د دوي لخوا ترسره شوي دي ، ثبت کړي ، چې د ۲۰۱۴ کال[9] د همدې مودې په پرتله درې فیصده په ملکي تلفاتو کې کمی ښیي. یوناما د دولت ضد عناصرو د ډله ییزو بریدونو په کچه کې چی د ملکی تلفاتو لامل شوی ، ۷۸ سلنه زیاتوالی او په هدفي وژنو کې ۵۷ سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی . د ۲۰۱۵ کال په لومړنیو شپږو میاشتو کې ، هدفي وژنې د ملکي تلفاتو د اصلی لامل په توګه پیژندل شوی دی. یوناما د دولت ضد عناصرو لخوا په مخامخ ځمکنیو نښتو کې په ملکي تلفاتو کې ۴۶ سلنه کمی او د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کې ۲۱ سلنه کمی ثبت کړی دی. په دغه موده کې کموالی ښایي د ټاکنو په پروسه کې د هدفي بریدونو د نشتوالي له دې امله رامنځ ته شوی وي ؛ د ۲۰۱۴ کال په همدې موده کې یوناما د دغه کال په اپریل او جون کې د ولسمشریزو د لومړۍ او دویم پړاو د ټاکنو پرمهال د ملکي تلفاتو لوړه شمیره مستنده کړې ده.

دولت پلوه ځواکونه په ځانګړې توګه افغان ملي امنیتي ځواکونه په دوامداره توګه د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو د زیاتوالی سبب شوي دي. یوناما ۷۹۶ ملکي تلفات ( ۲۳۴ مړینې ۵۶۲ ژوبلې ) چې د دولت پلوه ځواکونو لخوا ترسره شوي دي ، مستند کړي چې د تیر۲۰۱۴کال[10] د همدې مودې په پرتله ۶۰ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. تر ټولو ډیر ملکي تلفات چی لامل یې دولت پلوه ځواکونه بلل شوي ، د مخامخ ځمکنیو نښتو په ترڅ کې منځ ته راغلي دي. په تیره بیا د چاودیدونکو وسلو لکه هاوانونو ، راکټونواو لاسي بمونو کارولو له امله رامنځ ته شوي دي. د ۲۰۱۵ کال په لومړنیو شپږو میاشتو کې ، دولت پلوه ځواکونو په مخامخ ځمکنیو نښتو کې د دولت ضد عناصرو په پرتله ملکي وګړو ته ډیر تلفات اړولي دي.

---

[9] د ۲۰۱۴ کال په لومړنی شپږو میاشتو کې ، یوناما د ۳،۵۲۸ ملکي تلفات (۱،۲۴۲ مړي او ۲۲۸۶ ټپیان) و ټولو مخالف وسله والو ګروپونوته نسبت ورکړی و.

[10] د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه تر ۲۰۱۴ کال د جون ۳۰ مې پورى ، د یوناما لخوا د ۴۹۷ ملکی تلفاتو (۲۰۶ مړي او ۲۹۱ټپیان) پړه پر دولت پلوه ځواکونو باندی اچول شوې ده.




**په بريدونو کې اوښتي ملکي تلفات چې طالبانو يې مسووليت پر غاړه اخيستی**


د ټولټال ۳۴۳۶ ملکي تلفاتو څخه چې دولت ضد عناصروته منسوب شوی ، طالبانو د ۲۳۹ بريدونو چی د ۱۰۰۲ ملکي تلفاتو(۲۵۹ مړينې او ۷۴۳ ژوبلې) سبب شوي دي ، پړه پر غاړه اخيستې ده . په دغو تلفاتو کې هغه ملکي مړينې او ژوبلې شاملې وي ، کومې چې د طالبانو له خوا د دوي پر ويب پاڼه يا ټويټر باندې د منل شويو بريدونو له امله رامنځ ته شوي دي.[11] ۱۰۰۲ ملکي تلفات چې د طالبانو له خوا په منل شويو پيښو کې رامنځ ته شوي ، په ملکي تلفاتو کې د ۲۰۱۴ کال[12] د همدې مودې په پرتله کې ۱۰۵ سلنه زياتوالی په ډاګه کوي. ملکي تلفات چې طالبانو يې د بريد مسووليت پرغاړه اخيستی دی ، د ټولو ملکي تلفاتو ۲۰ فيصده جوړوي. د ۷۰ سلنې ملکي تلفاتو له جملې چې د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ، ۲۹ سلنه د ټولو ملکي تلفاتو د هغو بريدونو له امله چې طالبانو يې مسووليت پر غاړه اخيستی ، رامنځ ته شوي دي.

تر نيمايي زيات هغه ملکي تلفات چې طالبانو يې د بريد مسووليت په غاړه اخيستی دی ، په ملکي خلکو باندې او يا پر نظامي موخو باندې چی هلته ملکي وګړي اوسيږي ، د ډله ييزو او ځانمرګيو بريدونوله امله را پيښ شوي دي. په ملکي انفرادي کسان باندې هدفي بريدونه ، د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو په ذريعه بې توپيره بريدونه ، او په افغاني امنيتي ځواکونو باندې

[11] هغه ملکي تلفات چې يوناما دهغو مسوليت پر طالبانو اچولی دی ، اوطالبانو يی مسووليت ندی منلی هغه ځانګې ته متوجه کيږی چی يوناما د دولت ضد عناصرو عنوان ورکړی دی.

[12] د طالبانو لخوا د منل شويو بريدونو له امله د ۱۰۵ فيصده ملکی تلفاتو زياتوالی په دې مانا نده چې د مړو او ټپيانو شميره دوه برابره شوی ده. دا شمير د دې څرګندونه کوي چی طالبانو يې د ډيروهغو بريدونو مسووليت پر غاړه اخيستی دی ، چی پکې ملکي وګړي وژل شوي يا ټپيان شوي دي.د ۲۰۱۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کی ،طالبانو د ۲۳۹ بريدونو مسوليت پرغاړه اخيستی دی چی له امله يې ملکی تلفات رامينځته شوي دي دا په داسی حال کی ده په د ۲۰۱۴ کال په همدي موده کې طالبانو په عامه توګه د ۱۳۶ بريدونو مسووليت پر غاړه اخيستی و چه په کی ملکی وګړوته مرګ ژوبله اوښتی وه.

د طالبانو له خوا د بریدونو پر مهال د ملکي کسانو ژوبلې او وژنې په هغو بریدونو کې شاملې دي چې طالبانو یې مسوولیت منلی دی.




| | مرکزي سیمه | مرکزي لوړه سیمه | ختیځ | شمال ختیځ | شمال | جنوب ختیځ | جنوب | لویدیځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 314 | 27 | 329 | 35 | 61 | 445 | 1122 | 158 |
| 2010 | 351 | 8 | 440 | 113 | 93 | 551 | 1559 | 156 |
| 2011 | 447 | 1 | 697 | 363 | 98 | 875 | 1216 | 219 |
| 2012 | 464 | 9 | 437 | 147 | 318 | 664 | 891 | 208 |
| 2013 | 612 | 25 | 671 | 187 | 331 | 598 | 1093 | 404 |
| 2014 | 697 | 38 | 856 | 311 | 563 | 615 | 1392 | 422 |
| 2015 | 684 | 42 | 951 | 545 | 368 | 763 | 1272 | 296 |

### ښځې او ماشومان

د ۲۰۱۵ کال د لومړیو شپږو میاشتو په دوران کې نښتو پر ښځو او ماشومانو هم ناوړه اغیزې درلودې . که څه هم یوناما د ټولو ملکي وګړو د مرګ ژوبلې یو سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی خو بل پلو بیا دغه اداري یواځې د ښځو د مرګ ژوبلې ۲۳ سلنه زیاتوالی (۵۵۹ ښځو تلفات: ۱۶۴ مړینې او ۳۹۵ ټپیانې) او د ماشومانو په تلفاتو کې ۱۳ سلنه زیاتوالی (۱۲۷۰ ماشومانو تلفات: ۳۲۰ مړینې او ۹۵۰ ټپیان) ثبت کړې دي.

په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړوند یوناما د ۲۰۱۴ په نیم کلن او کلني راپورونو کې د مستند شوو جریاناتو له مخې د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د عامو خلکو د تلفاتو په پرتله د ښځو او ماشومانو په تلفاتو کې په پرلپسې توګه زیاتوالی څرګندیږي. د ښځو تلفات د کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو د ټولې شمېرې ۱۱ سلنه جوړوي چې د ۲۰۱۴ کال په همدې موده کې د دغو تلفاتو شمېر ۹ سلنه پیژندل شوې وه. د ماشومانو تلفات د ټولو ملکي تلفاتو ۲۶ سلنه وه چې د ۲۰۱۴ کال په لومړیو شپږو میاشتوکې ۲۳ سلنه اټکل شوې وه.

### ځمکنی نښتې په ۲۰۱۵ کال کې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل و

یوناما د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د لومړۍ نېټې څخه د جون د ۳۰ مې نېټې پورې د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ۱۵۷۷ ملکي وګړو مرګ-ژوبله (۳۷۹ مړه او ۱۱۹۸ ټپیان) ثبت کړې ده چې د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۱۹ سلنه کموالی په ډاګه کوي.

یوناما اندیښنه لري چې د ۲۰۱۵ کال د لومړیو شپږو میاشتو په موده کې د دولت پلوه نظامي ځواکونو او د دولت ضد وسله والو مخالفینو د مخامخ ځمکنیو نښتو په دوران کې تقریبا یو برابر ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

په همدغه موده کې کموالي ښایي د دې له امله وي چې د ټاکنو په بهیر کې بریدونه نه دي شوي ؛ د ۲۰۱۴ کال په همدې موده کې یوناما د ولسمشریزو ټاکنو په لومړي او دوهم پړاو کې چې د ۲۰۱۴ کال د اپریل او جون په میاشتو کې ترسره شوې ، د ملکي تلفاتو لوړه شمېره مستنده کړې ده.

د یوناما د موندنو پر اساس د ۲۰۱۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو په موده کې د دولت ضد وسله والو مخالفینو له لورې د ټاکنو د کمیسیون په کاروانونو ، د رایې اچونې په مرکزونو ، د ټاکنو نوماندانو او د هغوی د ملاترو پرخلاف ځمکنۍ حملې ترسره شوي چې له امله یی ۳۸۰ تنو ملکیانو ته مرګ ژوبله (۷۴ مړه او۳۰۶ ټپیان) اوښتې ده ، [۱۳].

سربیره پردې کمښت ، مخامخ ځمکنۍ نښتې د ملکي مرګ ژوبلې تر ټولو مخکښ لامل و چې د روان کال د لومړیو شپږو میاشتو په اوږدو کې د ټولو ملکي وګړو ۳۲ سلنه تشکیلوي.

د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې ، د افغان ملي امنیتي ځواکونو د حکومت جوړونې په موخه او د دولت ضد وسله والو مخالفینو د حملو پر وړاندې ځمکنیو عملیاتو او ځوابې حملو کې د پام وړ ډیروالی راغلی دی. دغه عملیات دولت پلوه ځواکونو ته منسوب د ملکي تلفاتو ارقام د ځمکنیو نښتو په دوران کې لوړ ښایي. د ۲۰۱۵ کال د لومړیو شپږ میاشتو په دوران کې ، حکومت پلوه نظامي ځواکونو د ځمکنیو نښتو پر مهال د دولت ضد وسله والو مخالفینوپه پرتله ډیره مرګ ژوبله اړولې ده. یوناما د ملکي وګړو د تلفاتو ۵۸۰ پیښې (۱۴۳ مړینې او ۴۳۷ ټپیان) چې د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې رامنځته شوي او دولت پلوه ځواکونو ته منسوبې وې چې د ۲۰۱۴ کال د همدې په پرتله ۸۵ سلنه زیاتوالی ښیي او د ځکمنیو نښتو له امله د ټولو ملکي تلفاتو ۳۷ سلنه جوړویثبت کړي دي.

دولت پلوه نظامي ځواکونو ته منسوب د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ارقام ډیری وختونه په ګڼ میشتو سیمو کې د هاوان ، راکټونو ، او لاسي بمونو د استعمال او لګیدو له امله رامنځ ته شوي دي. یوناما مشاهده کړې چې د دولت پلوه نظامي ځواکونو له لوري د ځمکنیو نښتو پر مهال د ټولو ملکي وګړو د مرګ-ژوبلې ۸۸ سلنه په جګړه کې د غیر مستقیم وسلو د استعمال ، په ځانګړي توګه د هاوان مرمیو چې د اغیز ساحه یې خورا پراخه ده ، رامنځ ته شوي دي[۱٤]. یوناما داسي پیښې مستندې کړي چې په ګڼ میشته سیمو کې د غیرمستقیم فیر وسلو استعمال په ملکي وګړو بې توپیره او ناوړه بشري اغیزي درلودې. د ملګرو ملتونو عمومي منشی په جګړه کې د ښکیلو غاړو څخه غوښتنه کړې چې په ګڼ میشته سیمو کې د چاودیدونکو توکو او وسلو د استعمال څخه چې د اغیز ساحه یې خورا پراخه وي ، ډډه وکړي[۱۵].

---

[۱۳]. یوناما د ۲۰۱۴ کال د لومړیو شپږ میاشتو په اوږدو کې د ټاکنو د پروسې په بهیر کې په هر ډول پیښو کې د ملکې وګړو د مرګ ژوبلې ۶۷۴ پیښې (۱۷۳ مړینه او ۵۰۱ ټپیان) ثبت کړي چې اکثریت یې یوناما د دولت ضد وسله والو مخالفینو ته منسوب کړي دي.

[۱٤]. د غیر مستقیم وسلو انداخت لکه هاوانونه ، راکټونه او لاسي بمونه چي د د لوړ کیفیت چاودیدونکي وسلو سیستم دی چې مرمۍ د هدف په لور فیر کوي پداسي حال کې چې په نښه شوی هدف په مستقیم لیکه کې ورته مخامخ نه ښکاري. هاوانونه په یومشخصه نقطه کارول کیدای نشي بلکه پر یوې پراخې سیمه اغیزه کوي. دا چې کله په یوه هستوګنیزه سیمه کې ولګیږي ، د ملکي وګړو د مرګ-ژوبلې احتمال ډیر زیات وي.

[۱۵]. د ملګرو ملتونو سرمنشي راپور "په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه"S/ ۲۰۱۲/ ۳۷۶/

د دولت ضد وسله والو مخالفینو له لورې ، د ځمکنیو نښتو پر مهال د ملکي وګړو ۵۱۲ تلفات (۱۳۷ مړینه او۳۷۵ ټپیان) رامنځ ته شوي چې د تېر په نسبت ۴۶ سلنه کموالی په ډاګه کوي او د ځمکنیو نښتو پر مهال د رامنځ ته شوو ټولو ملکي وګړو مرګ-ژوبلې ۳۲ سلنه تشکیلوي. څرنګه مو چې مخکې یادونه وکړه ، د تلفاتو دغه کموالی په ۲۰۱۴ کال کې د ټاکنیزې پروسې د بشپړیدو وروسته رامنځ ته شوی دی.

د ځمکنیو نښتو له امله د رامنځ ته شوو ۳۰ سلنه ملکي وګړو مرګ ژوبله په ځانګړې توګه د متقابلو ډزو په دوران کې اوښتې تلفات ، یوناما د جګړې دواړو ښکیلو ډلو دولت پلوه او د دولت ضد وسله والو مخالفینو ته منسوب کړي دي .

د ځمکنیو نښتو له امله د رامنځ ته شوو ملکي تلفاتو پاتې یو سلنه یې د پولې په دواړو خواوو کې د ډزو له امله رامنځته شوي دي.

**د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي تلفاتو کمښت**

یوناما په لومړی ځل دا موندلې چی د ۲۰۱۲ کال [په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه] شپږ میاشتنې راپور را وروسته د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د استعمال له امله د ملکي وګړو مرګ ژوبله کې کموالی راغلی دی. یوناما د ۲۰۱۵ کال د جنوري د لومړۍ نېټې څخه تر د جون د ۳۰ مې نېټې پورې د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۱۱۰۸ پیښې (۳۸۵ مړینه او ۷۲۳ ټپیان) ثبت کړي [۱٦] چې دا د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په دوران کې د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په پرتله ۲۱ سلنه کموالي په ډاګه کوي[۱۷]. د دې کمښت سربیره ، د ۲۰۱۵ کال د لومړیو شپږو میاشتو په دوران کې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې دوهم لوې لامل ( د ټولو ملکي تلفاتو ۲۲ سلنه) تشکیلوي.

یوناما د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایې کې د نا قانونه د فشارد تختې په ذریعه د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو[۱۸] د کارولو له امله د ملکي وګړو د مرګ-ژوبلې د زیاتوالي په اړه اندیښنه په ډاګه کوي[۱۹]. یوناما د ملکي تلفاتو ۵۰۶ پیښې (۲۵۱ مړینه او۲۵۵ ټپیان) چې د دولت ضد عناصرو له خوا د همدې توکو د کارولو له امله رامنځته شوي ثبتې کړي ، چې د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۳۸ سلنه ډیروالی په ډاګه کوي. د ۲۰۱۵ کال په لومړي نیمایي کې د فشارد تختې په ذریعه د ځای پر

---

[۱٦] یوناما په ډاګه کوي چې دغه ارقام د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي وګړو هغه مرګ-ژوبله چې د ډله ییزو او ځانمرګو بریدونو پر مهال رامنځ ته شوي ، ندی شاملې. که ټول وشمارل شي ، په ټولیز ډول ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو د کارولو له امله د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي وګړو د تلفاتو ۴۳ سلنه تشکیلوي : ۲۱۳۰ ملکي وګړو مرګ-ژوبله (۵۶۸ مړینه او ۱۵٦۲ ټپیان) چې د ۲۱۰۴ کال د همدې مودې پرتله ۸ سلنه ډیروالی په ډاګه کوي.

[۱۷]. د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه تر د جون د ۳۰ مې نیټې پورې یوناما د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۱۴۰۷ پیښې (۴۷۷ مړینه او ۹۳۰ ټپیان) د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو د کارولو له امله ثبت کړې دي.

[۱۸]. افغانستان د اوتاوا کنوانسیون یا د ماینونو د بندیز د ۱۹۷۷ کال تړون چې د پرسونل ضد ماینونو پر استعمال ، ذخیره کول ، تولید او لیږد ، او د هغوې د له منځه وړلو په اړه دی ، تصویب کړی دی. یاد تړون د پرسونل ضد ماینونو استعمال او د قربانیانو اړوند چاودیدونکو توکو لکه فشاري ماینونو استعمال منع کړی دی. د تړون له مخې ماین تعریف هغه چاودیدونکو توکو ته شامل دی چې په ځمکه او همواره ساحه کې کیښودل کیږي او د یو کس او موټر د موجودیت ، نږدیوالي او تماس په وخت کې چوي.

[۱۹]. یوناما په ۲۰۱۴ کال کې د فشاري ماینونو په پایله کې د ۷۷۵ ملکي مرګ-ژوبله(۴۱۷ مړینه او ۳۵۸ ټپیان) ثبت کړې ده چې دا په ۲۰۱۳ کال کې د فشاري ماینونو له امله د مرګ-ژوبلې پرتله ۳۹ سلنه ډیروالی په ډاګه کوي.

د یوناما د ۲۰۱۴ کال د " په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه" کلني راپور ۴۸ صفحې ته دی مراجعه وشي.

ځاې شویو چاودیدونکو توکو له امله د ټولو ملکي وګړو د تلفاتو تقریبا نیمایی (د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو له امله دټولو تلفاتو ۴۶ سلنه) برخه تشکیلوي.

یوناما موندلې چې د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي تلفاتو کمښت اړینه نه ده چې دا په ډاګه کړي چې ګوندې د دولت ضد وسله والو مخالفینو له لوري د چاودیدونکو توکو په استعمال کې کموالی راغلی دی. د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي وګړو تلفاتو کې کمښت د دولت پلوه نظامي ځواکونو د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو د کشف او خنثی کولو په وړتیا پورې هم تړاو لري چې دغه ځواکونو د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کی د ۵۰۰۰ نه ډیر ځای پرځای شوي چاودیدونکي توکي له منځه وړي چې کیدای شوای د ډیرو ملکي تلفاتو سبب ګرځیدلی وای [۲۰].

## د ځان وژونکو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې مخ پر ډیریدونکي ملکي تلفات

د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې د ملکي وګړو د قربانیانو شمېر د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږ میاشتو په دوران کې ۲۱ سلنه ډیر شوی دی چې دا کچه بیا د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو له امله د اووښتې ملکي مرګ ژوبلې را وروسته د ملکي تلفاتو دوهم لوی لامل ګرځیدلی دی. ډله ییزې او ځان وژونکي حملې چې د دولت د وسله والو مخالفینو له لورې کارول شوي ، ۱۰۲۲ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله (۱۸۳ مړینه او ۸۳۹ ټپیان) اړولې ده چې دا اندازه بیا د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې پرتله ۷۸ سلنه ډیروالی په ډاګه کوي. طالبانو د ۴۴ مستندو شوو ډله ییزو او ځانمرګو بریدونو د پیښو څخه د ۲۷ هغو مسوولیت پر غاړه اخیستی چې دا ډول د طالبانو له لورې ادعا شوي ډله ییز او ځانمرګي بریدونه د ۵۴۲ ملکي تلفاتو (۸۷ مړینه او ۴۵۵ ټپیان) لامل ګرځیدلي ، چې په تېر کې د طالبانو لخوا ادعا شوې ډله ییز او ځانمرګي بریدونوپر تله ۱۶۷ سلنه ډیروالی ښیي [۲۱].

## هدفي وژنې د هر بل تاکتیک په پرتله د ډیرو افغان وګړو د مړینې لامل شوي

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د هدفي وژنو په پایله کې د رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبلې په کچه کې ۵۷ سلنه زیاتوالی راغلی دی چې د ۶۹۹ ملکیانو د مرګ ژوبلې (۴۴۰ مړینه او ۲۵۹ ټپیان) لامل شوی دی او دا د کال د لومړۍ نیمایي د ټولې ملکي مرګ ژوبلې ۱۴ سلنه جوړوي. که څه هم ځمکنۍ نښتو ، چاودیدونکي توکو ، ډله ییزو او ځانمرګي بریدونو په عمومي توګه د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې ډیری ملکي مرګ ژوبله رامنځته کړې ، ولې هدفي وژنې د بل هر تاکتیک په پرتله د زیاتې مړینې لامل شوی دی چې د ۴۴۰ وګړو په مړینې سره د ټولو ۱۵۹۲ مستند شوي ملکي تلفاتو مړینې د جملې ۲۸ سلنه جوړوي. یوناما د هدفي وژنو څخه د ټولې رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبلې ۹۴ سلنه د دولت وسله والو مخالفینو ته منسوب کړې.

## د ملکي وګړو د تښتونې زیاتوالی او د برمته شویو ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په کچه کې لوړوالی

د ۲۰۱۵ کال د جنوري میاشتې د ۱ نیټې څخه د جون د میاشتې تر ۳۰ مې نیټې پورې ، یوناما ۱۹۶ د تښتونې پیښې مستندې کړې دي ، چې نږدې ټولې یې د دولت د وسله والو مخالفینو له خوا ترسره شوي دي ، چې د ۷۶ ملکي مرګ ژوبلې (۶۲ مړینه او

---

[۲۰]. د ناټو ایمیل دې وکتل شي:

Email from NATO/ RS UNCLASSIFIED Re: UNAMA, Resolute Support Mission Response to UNAMA – Protection of Civilians in Armed Conflict, received 29 July 2015.

[۲۱]. د ۲۰۱۴ کال د جنورې د لومړۍ نیټې څخه تر د جون د ۳۰ نیټې پورې طالبانو د ۲۰ ځانمرګو او ډله ییزوبریدونو پړه پر غاړه اخیستې چې په نتیجه کې ۲۰۳ ملکي تلفات (۷۶ مړینه او ۱۲۷ ټپیان) ثبت شوې .

۱۴ تپیان) لامل شوی دی چې د دې ډول پیښو په شمیر کې ۳۷ سلنه زیاتوالی ، او د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله د تښتونو اړونده ملکي مرګ ژوبله کې ۱۱۷ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي[۲۲]. د یوناما له خوا د ۱۹۶ملکي وګړو د تښتونو مستند شویو پیښو له ډلې ۱۹۰ پیښې د دولت وسله والو مخالفینو ترسره کړي دي چې د ۷۶ څخه د ۷۵ ملکیانو د مرګ ژوبلې لامل شوی دی. یوناما ۶ پیښې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړې دي.

یوناما د دولت وسله والو مخالفینو له خوا د ملکي وګړو تښتونې مستندې کړي دي چې د مالي ګټو ، د عامه خلکو د ویرولو او یا د بندیانو د تبادلې په ګډون د مقابل لوري څخه د امتیازاتو ترلاسه کولو په موخه ترسره شوې دي. سربیره پردې یوناما د هغو تښتول شویو کسانو په شمیر کې زیاتوالی مستند کړی دی چې د تښتونکو له خوا په دې خاطر وژل شوي دي چې ددوی غوښتنې یې نه دي منلي ، او یا په برمته شویو کسانو ولکه کلکه کړي یا یې هم هغوی د وژلو په موخه تښتولي وو.

تښتونې او د هغوی په پایله کې رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبله چې دواړه د یوناما له خوا ثبت شوې دي ، د ۲۰۰۹ کال راهیسې چې یوناما په سیستماتیک ډول دا ډول پیښې مستندې کوي ، کچه یې ترټولو لوړه ده او د ۲۰۱۵ کال د لومړۍ نیمایي د ټولې ملکي مرګ ژوبلې ۲ سلنه جوړوي.

### د هوایي عملیاتو په پایله کې د ملکي مرګ ژوبلې کچه لوړیدل

د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ میاشتې د ۱ نیټې څخه د جون میاشتې تر ۳۰ مې نیټې پورې ، یوناما ۷۷ ملکي مرګ ژوبله (۳۲ مړینه او ۴۵ ټپیان) مستند کړې ده چې د نړیوالو نظامي ځواکونو او افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د هوایي عملیاتو په پایله کې رامنځته شوې ده ، چې د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۸۸ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. دا د دې لامل شوی چې په تیرو کلونو کې په دا ډول مرګ ژوبله کې د کمښت دوامداره بهیر ټکنی کړي. د هوایي عملیاتو په پایله کې رامنځته شوې مرګ ژوبله د ټولې مرګ ژوبلې ۲ سلنه جوړوي.

د ۷۷ مُلکیانو د مرګ ژوبلې له ډلې ، یوناما ۴۹ (۲۷ مړینه او ۲۲ ټپیان) نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب کړي دي. سره له دې چې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچې راټیټولو په موخه یو لړ تدابیر ترلاس لاندې نیول شوي ، دا شمیره د هغوی په هوایي عملیاتو کې د ملکي مرګ ژوبلې په کچه کې ۲۳ سلنه زیاتوالی څرګندوي[۲۳] ، چې ډیری یې د بې پیلوټه الوتکو د بریدونو په پایله کې رامنځته شوي ، او دا د یوناما له خوا په مخکینی مستند شوي بهیر کې په شاتګ ښیي[۲٤].

د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ له ۱ نیټې نه د جون د تر ۳۰ مې نیټې پورې ، یوناما د ۲۸ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۵ مړینه او ۲۳ ټپیان) مستند کړي چې د هوایي عملیاتو ۱۰ بیلابیلو په پیښو کې د افغان هوایي ځواکونو له خوا رامنځته شوي دي. افغان هوایي ځواکونه د افغان ملي اردو برخه ده چې د ۲۰۱۵ کال په لومړیو کې د ملي امنیتي ځواکونو د ملاتړ په موخه ، په لومړي ځل یې د هوایي بریدونو او هوایي ملاتړ مسؤلیت په غاړه واخیست..

---

[۲۲] د ۲۰۱۴ کال د جنوري ۱ نیټې څخه د جون تر ۳۰ مې نیټې پورې ، یوناما د تښتونې ۱۴۳ پیښې ثبت کړي دي چې د ۳۵ ملکي وګړو د مرګ ژوبلې (۲۷ مړه او ۸ ټپیان) لامل شوي دي.

[۲۳] د ۲۰۱۴ کال د جنوري ۱ نیټې څخه د جون تر ۳۰ مې نیټې پورې ، یوناما د نړیوالو نظامي ځواکونو د هوایي بریدونو په پایله کې ۴۰ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۲۷ مړه او ۱۳ ټپیان) ثبت کړې ده.

[۲٤] په وسله والو نښتو کې د ملکي وګړو ساتنه ، د ۲۰۱۴ کال د یوناما شپږ میاشتنی راپور ، ۵۹-۶۰ مخونه وګورئ.

## نور هغه تاکتیکونه چې د ملکي وګړو د زیانمنیدو لامل شوي

له جګړې څخه پاتې ناچاودي توکي چې کومې ځانګړې غاړې ته نه منسوبیږي ، د ټولو ملکیانو ۴ سلنه مرګ ژوبلې لامل شوی دی. دغه ناچاوده توکي په غیر متناسبه توګه د ماشومانو لپاره زیانمنوونکي وو او قربانیان یې ۸۳ سلنه افغان ماشومان جوړوي. د ملکي مرګ ژوبلې پاتې ۳ سلنه ، د دولت وسله والو مخالفینو له خوا د موازي عدلي جوړښتونو د صحرایي وژنو ، د ځاني دفاع پیښو او د جګړې ښکیلو غاړو له خوا د نورو وژنو او ناوړه چلند په ترڅ کې رامنځته شوې ده.

## د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د بشري حقونو څخه سرغړونې


د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د ۱ نیټې نه تر جون ۳۰مې نیټې پورې ، یوناما د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ملکي مرګ ژوبلې زیاتیدونکې کچه مستند کړې. یوناما د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ۶۹ بیلابیلو پیښو په ترڅ کې د ۸۷ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۳۱ مړینه او ۵۶ ټپیان) ثبت کړې ده چې دا د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۱۱۸ سلنه زیاتوالی ښیې. د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې ، د ځمکنیو نښتو ، هدفي وژنو ، وهلو ټکولو او ناوړه چلند په پایله کې دولت پلوه وسله والې ډلې د ټولو ملکي تلفاتو ۲ سلنه تلفات تشکیلوي.

## د شخړې سره په تړاو کې بې ځایه کېدل

په افغانستان کې د داخلي بې ځآیه[25] شویو کسانو اړونده کاري ډلې ، د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې نږدې ۱۰۳۰۰۰ بې ځایه شوي ملکي وګړي ثبت کړي دي چې د ۲۰۱۴ کال د همدې مودې په پرتله ۴۴ سلنه زیاتوالی ښیې. د ۲۰۱۵ کال د جولای تر ۱۶ مې نیټې پورې ، په افغانستان کې د داخلي بې ځآیه شویو وګړو شمیر ټول ټال ۹۴۵۶۰۰ تخمین شوی دی.[26]

[25] د داخلي بې ځایه شوي ګډه کاري ډله د ملګرو ملتونو د کډوالو د پاره عالی کمشنرۍ ( یو این ایچ سي ار ) او د افغانستان د کډوالو او راستنو شویو وزرارت لخوا په ګډه مشري کیږي. دا د جګړې له امله د بې ځایه شوي خلکو د ثبتولو او مرستې لپاره اساسې میکانیزم جوړوي. تازه او وروستی شمیرې په دې راپور کې د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ څخه د مئ تر ۳۱ مې نېټه رانغاړي.

[26] دا ارقام د یو این ایچ سي آر په واسطه تیارې شوي. دا مالومات د ۲۰۱۵ کال د جولای په ۲۱ نیټه د برښنالیک له لارې ترلاسه شوي دي.




## کتنې

د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایی کې ګڼ شمېر جریانونه رامنځ ته شول چې له امله یې ملکي وګړو ته مخ په ډېریدونکی زیان اوښتی دی. د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایي کې د ملکي تلفاتو کچه د دوو مخکښ لاملونو یانې ځمکنیو نښتو اود ځای په ځای شوي چادیدونکو توکو پخ پایله کې راټیټه شوې ده ، خو هدفي وژنې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل ګرځیدلی او ملکي وګړي په زیاته پیمانه د پیچلو او ځان مرګو بریدونو له امله چې د دولت ضد عناصرو له لوري تر سره شوي زیانمن شوي دي. سره له دې چې د ځمکنیو نښتو په پایله کې په عمومي ډول په ملکي تلفاتو کې کمښت راغلی ، خو د دولت پلوه ځواکونو لخوا د ځمکنو نښتو او هوایی عملیاتو په وخت ملکي مرګ ژوبله ډېره شوې. د دې سره دولت ضد عناصرو دسیالو ډلو ترمنځ نښتو او نوو ډلو راڅرګندیدلو سره په افغانستان کې ملکي وګړي د نوي ګواښ سره مخ کړي.

طالبانو او نور دولت ضد عناصرو دوامداره هڅې کړي چې سیمې د خپلې ولکې لاندې راولې او د زیات ملکي نفوس د مرکزونو په لور یې پرمختګ وکړ چې په دې کې د ولسوالیو مرکزونه او د کندوز لوی ښار شامل وو. په داسې حال کې چې د افغانستان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې خبرو کې پرمختګ تر سترګو شو ، خو دې د طالبانو په هغه هڅو چې د خپل واک سیمې پراخه کړې ډېر لږ یا هم هیڅ اغیز نه دی کړی : چې طالبانو او نورو وسله والو عناصرو په دې اړه ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نیمایی کې یو متعرض کمپاین په لاره اچولی و. یوناما د جګړې په مهال د دولت ضد وسله والو لخوا یو څه احتیاط مشاهده کړی - چې یوناما د دولت ضد وسله والو له خوا د ځمکنیو نښتو په مهال ملکي تلفاتو کې کمښت ثبت کړی- طالبانو او نورو ډلو د ډله ییزو او ځانمرګو بریدونو ترسره کولو ته ادامه ورکړې وه او د دې سره یې د ملکي وګړو هدفي وژنې ترسره کړي دي. دا انګیرله شي چې د داسې ډول فعالیتونو هدف د یوې پریکړې اونهایي فیصلې تر مخه د حکومت واک کمزوری کول و ، چې له امله یې ملکي وګړو ته زیات زیان واوښت.

که څه هم چې په ټوله کې د ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو له امله ملکي تلفات راکم شوي ، خو د دولت ضد عناصرو مخ په ډیریدونکي ډول غیر قانوني فشاري چاودیدونکو توکي دفاعي وسیلې په توګه کارولي تر څو د ځکمنیو نښتو پر مهال ، له هغه

وړاندې او له هغه وروسته د افغان ملي امنيتي ځواکونوپرمختګ ټکني کړي او يا يې مخه ونيسي ، چې د ځاي پرځاي شويودې ډول چاوديدونکو توکو د استعمال له امله په ملکي تلفاتو کې زياتوالی راغلی دی.

د جنورۍ د ۱ څخه تر ۳۰ جون پورې ، افغان امنيتي ځواکونو زيات عمليات د نړيوالو امنيتي ځواکونو پرته په مستقل ډول تر سره کړي او ډيري ځل يې د افغان هوايی ځواک ملاتړ نه کار اخيستی. افغان امنيتي ځواکونو په دوامداره ډول غير مستقيم کاريدونکې وسلې ( هاوان ، راکټ ، لاسي بمونه او توپونه ) کارولي چې ملکي وګړو ته په کې ډير زيان اوښتی دی. د افغان امنيتي ځواکونو په ځوابي عملياتو کې زياته بسيا په هاوان ، راکټ ، توپخانې او جنګي څرخي الوتکو باندې وه چې زياتره وخت د ډيرو ملکي تلفاتو لامل ګرځيدلي. يوناما دا هم په پرلپسې دول مشاهده کړې چې دولت پلوه وسله والو ډلو په ځانګړي ډول په شمال ختيځ کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو ملاتړ کړی دی. يوناما مشاهده کړې چې افغان امنيتي ځواکونه د دولت ضد وسله والو په نسبت د کم شمير ملکي تلفاتو سبب شوي کله چې دوي د وړاندې څخه پلان شوي عمليات اجرا کړي ، لکه د ذوالفقار په نوم عمليات چې د هلمند د ولايت په سنګين کې تر سره شول. په مقايسوي توګه افغان امنيتي ځواکونه هغه مهال د ډيرو ملکي تلفاتو سبب ګرځيدلی چې د کندز په ولايت کې د طالبانو او دولت ضد عناصرو پرمختګ مخنيوی وکړ او د هغوي پرضد يې عمليات تر سره کړل.

د دولت ضد عناصرو د ډلوتر منځ او د دوي دننه ښکاره مخالفتونه چې د سولې د پروسې په اړه اختلاف هم په کې شامليږي د داسې ډلو د راڅرګنديدو سره مرسته وکړې چې د داعش په نوم ( چې پخپله ځان اسلامي دولت ګڼي) ترهګر سازمان سره بيعت وکړي او د دولت ضد عناصرو د ډلو تر منځ خپل منځي جګړې راپيدا کړي په تيره بيا د ننګرهار په ولايت کې. يوناما همدارنګه مشاهده کړې چې د نوو ډلو په رامنځ ته کيدلو سره چې داعش[۲۷] ته خپل ځانونه وفادار بولي په ملکي سيمو کې يې دخلکو انديښنې را پارولي. يوناما په ننګرهار ولايت کې د داعش د وفادارو ډلو له خوا د ملکي کسانو د سر پريکولو او نورو اعدامونو بېلګې مستندې کړي. د دولت ضد عناصرو خپل منځي سيالو ډلو ترمنځ په ځانګړي ډول د طالب جنګياليو او هغه چې داعش ته ځان وفادار بولي تر منځ جګړو له امله ملکي تلفات رامنځ ته شوي او هم بيځايه شوي دي. يوناما انديښنه لري چې په دغو سيمو کې ملکي وګړي د مختلفو جګړه مارو ډلو منځ کې نښتي پاتې دي او کيدای شي نور هم زيانمن شي ځکه چې دا ډلې د نورو هغو سختو تاکتيکونو کارولو کې د سيالۍ کوښښ کوي کوم چې داعش پورې تړلو ګروپونو په نورو هيوادونو کې کارولي دي.

په دې شرايطو کې يوناما په خپله غوښتنه ټينګار کوي چې په جګړه کې ټولې ښکېلې خواوې دې مشخص عملی ګامونه واخلي ، او د بشر پالنې د نړيوال قانون مطابق خپل مکلفيت سره سم دې د ملکي تلفاتو مخنيوی وکړي. د دولت ضد وسله وال دې په ځانګړي ډول د ملکي اهدافو پر ضد او ملکي نفوس سيمو کې ډله ييز او ځان مرګي بريدونه په حتمي توګه ودروي. د دولت ضد وسله وال دې په فوري ډول د ملکي وګړو هدفي وژنې بندې کړي اود نا قانونه بې توپيره فشاري چاوديدونکو توکو کارول دې سمدستې ودروي.

د افغان امنيتي ځواکونو په شمول دې ټولې ډلې ، ټول هغه ممکنه احتياط وکړي چې په نظامي عملياتو کې د ملکي وګړو د تلفاتو مخنيوی وکړي ، او د ملکي وګړو د ميشت سيمو کې د ثقيله او غير مستقيم فير وسلې کارول ودروي. يوناما يو ځل بيا په ټولو

---

[۲۷] هغه ډلې چې د اسلامي دولت سره تړاو لري په عربي ژبه کې ورته په افغانستان کې "داعش " مخفف نوم ويل کيږي ، که څه هم د هيواد په ځينې برخو کې دغه کلمه د وفادارۍ پرته هر خارجي جنګيالي ته ويل کيږي.

ښکېلو خواو غبر کوي چې د هغو وسله والو ځواکونو او افرادو سره  محاسبه یقیني کړي چې په قصدي ډول او بې توپیره  ملکي وګړي وژني اویا یې ژوبلوي.

یوناما ښکېلو خواو ته لاندې سپارښتنې لري چې د هغوي د هغو هلو ځلو سره مرسته وکړي چې ملکي وګړي او ټولنې خوندي وساتي ، د ملکي تلفاتو مخنیوی وکړي ، او د بشر پالنې د نړیوال قانون او بشري حقونو د نړیوال قانون سره سم مکلفیت تر سره کړي.

**سپارښتنې**

**دولت ضد عناصرو ته**

د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې مکلفیت سره په سمون کې :

- په قصدي ډول د ملکي وګړو په نښه شوې وژنې او ملکي ځایونو ، د عبادت او کلتوري ځایونو په شمول او ملکي دولتي دفترونو او مرستندویه مامورینو په نښه کول ودروئ.
- بې توپیره او غیرمتناسب بریدونه ودروئ.
- په ملکي سیمو باندې او د ملکي سیمو څخه د هاوانونو ، راکټونو او لاسي بمونو توغول ودروئ.
- د ملکي و ګړو د پرلپسې تګ راتګ په ځایونو کې د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو کارول او په ځانګړي ډول د ځانمرګو بریدونو ترسره کول ودروئ او هم د فشار په ذریعه د فعالیدونکو نا قانونه ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو کارول توقف کړئ.
- د " ملکی ، ملکیانو" لپاره هغه تعریف وکاروئ چې د بشرپالنې د نړیوال قانون سره مطابقت ولري او د دې قانون د اصولو سره سم په ټولو نظامي عملیاتو کې تفکیک ، تناسب او احتیاطي تدابیر په پام کې ونیسئ.
- د طالبانو د رهبرۍ له خوا هغه صادرې شوې اعلامیې پلي کړئ کومې چې په ملکي خلکو او د ملکي اوسیدنې په ځایونو کې بریدونه منع کوي. هغه لارښودونه پلي کړئ چې د طالبانو غړیو ته یې لارښونه کړې چې د ملکیانو د تلفاتو څخه مخنیوی او ورڅخه ډډه وکړئ او هغو کسانو سره حساب وشي څوک چې ملکي خلک هدف ګرځوي ، وژني او ټپي کوي.
- د طالبانو د رهبرۍ له خوا د طالبانو د نفوذ لاندې سیمو کې د ښځو او نجونو د حقونو په اړه صادر شوې اعلامیې پلې کړئ ؛ د نجونو په ضد ، د معارف ، ښوونکو اوپه عموم ډول د پوهنې سکتور پر ضد بریدونه او ګواښونه ودروئ.
- د دې ډاډ ورکړئ چې جنګیالي ښوونځي ، روغتونونه ، کلنیکونه او نور خوندي ځایونه د نظامي اهدافو لپاره نه کاروي.
- د پولیو د واکسناتورانو او پولیو واکسین کمپاین باندې بریدونه ، ګواښونه او د دې مخنیوی ودروئ.

**د افغانستان دولت ته**

- د هستوګنې په سیمو کې د هاوانونو ، راکټونو او لاسی بمونو ویشتل ودروئ.
- په ملکي تلفاتو کې د کمښت په موخه دې ملي پالیسي جوړه او تصویب شي چې د یو کړنلارې په اساس یې ملاتړ وشي چې د کوټلي اهدافو په درلودلو سره په جګړو کې د ملکي وګړو د تلفاتو مخنیوی وکړي ؛ کوښښ و کړئ چې ملکیان د

جګړې د زيان څخه د واضحو تاکتيکي لارښوونو ، د نښتو د قواعدو او نورو طرزالعملونو په ځانګړي ډول د هوانو ، راکټونو ، لاسي بمونو ، توپونو او په وسله مجهزو الوتکو په اړه د جوړولو او پلي کولو ، او د ملکي کسانو د ساتنې د تدابيرو ، د اغيزو د کمولو ، احتساب ، او قربانيانو ته د تاوان د تلافي په برخه کې د ټولو افغان ملي امنيتي ځواکونو د روزنې تمويل او تجهيز د لارې خونديې شي.

- ټولې وسله واله ډلې او ملېشې بې وسلې او منحل کړئ ، او د هغو وسله واله ډلو د غړيو سره د حساب کولو نه ډاډ ورکړئ چې د بشري حقونو څخه سرغړونه کړې.
- د افغان امنيتي ځواکونو د لا ښه ظرفيت ودې ورکولو ته دې لومړيتوب ورکړل شي ، چې د ځای په ځای شوي چاويدونکو توکو سره د مبارزې عمليات ، له منځه وړلو او را ايستلو قومانده او کنترول په اغيزمن ډول تر سره کړای شي. ټولې لازمې سرچينې د دې لپاره ځانګړې کړئ څو د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو سره د مبارزې دملي ستراتيژۍ بشپړه پلي کېدنه يقيني شي.
- داسې پاليسي ګانې او طرزالعملونه دې رامنځ ته شي چې د جنګ په ميدان کې د ځمکنيو نښتو وروسته د ناچاوده چاوديدونکو پاتې شوني په نښه او د پاکوالي په اړه يې ډاډ تر لاسه شي.
- د افغان امنيتي ځواکونو ، د دولت پلوه وسله والو ډلو او ايتلافی ځواکونو د بشري حقونو د تيري او د بشر پالنې د نړيوال قانون او بشری حقونو قانون څخه د سرغړونو ټول تورونه دې وپلټل شي. د افغانستان او نړيوال قانون په وړاندې ګرم پېژندل شوې کسان دې قانوني تعقيب او مجازات شي او د دې ډاډ ورکړئ چې د سرغړونو قربانيانو په اغيزمن ډول تلافي کيږي.
- د جګړې له امله تاوتريخوالي په نتيجه کې د وژل شويو ملکي وګړو د ښځو او کورنۍ لپاره د خسارې د جبران په اړه په شته طرزالعملونو دې بيا کتنه وشي او هغه دې اصلاح شي. او ورسره د خساري جبران تر لاسه کولو طرزالعمل او بنسټيز خدمتونو ته لاس رسي په اړه دې عامه پوهاوی لوړ شي.
- ښوونځي ، روغتونونه او کلنيکونه د نظامي اهدافو لپاره کارول ودروئ او طبي اسانيتاوو ته په ځانګړي ډول د ناپيلي تاسيساتو په ډول د احترام ډاډ ورکړئ.
- د دې ډاډ ورکړئ چې ټولې خواوې د ملکي وګړو روغيتايی خدمتونو ته د لاس رسي احترام کوي او په ځانګړي ډول دا يقيني کړئ چې ټولې خواوې د ماشومانو واکسينو او نورو روغتيا مراکزو ته د لاس رسي د حق احترام کوي.

**نړيوالو نظامي ځواکونو ته**

- د افغانستان د حکومت سره په ملکي تلفاتو کې د کموالي په موخه د ملي پاليسي په جوړولو کې مرسته وکړئ او د عمل د هغه پلان په پلي کولو کې ملاتړ وکړئ چې په جګړو کې د ملکي وګړو د تلفاتو مخنيوی کوي.
- د ۲۰۱۵ وروسته د ناټوټو د پريکنده ملاتړ ماموريت له خوا افغان امنيتي ځواکونو سره د پاليسۍ ، عملياتي او په تاکتيکي کچه مرستې ته ادامه ورکړئ ، او اوسنې عملياتي شرايطو ته په کتلو سره دې د دې څخه ډاډ تر لاسه شي چې افغان امنيتي ځواکونه په بشپړ ډول تمويل ، تجهيز او روزل شوي ، او په ځانګړي ډول د غير مستقيم وسلو دفير کولواو د افغان امنيتي ځواکونو لخوا د جنګي الوتکو د کارولو په اړه د مناسب پروتوکول ، روزنې ، د ملکي تلفاتو د کمښت لپاره د تدابيرو شتون اړتيا په پام کې ونيول شي.
- د افغان امنيتي ځواکونو سره مرستې ته ادامه ورکړئ چې د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو سره د مبارزې د عملياتو او د دغو توکو د خنثی کولو قومانده کنترول په اغيزمن ډول ترسره کړي ، چې د ۲۰۱۵ – ۲۰۱۷ کلونو کې د دغو توکو

ایستل او استحصال شامل دی .

- په افغانستان کې ټول نظامیان یا خارجي استخبارات او امنیتي ځواکونه چې په یواځې سر یا د افغان امنیتي ځواکونو سره د ملاتړ لپاره ګډ عملیات ترسره کوي ، باید دې ډاډ ورکړي چې په مخامخ ځمکنیویو اوهوایي عملیاتو کې د ملکي وګړو د خوندي ساتنې په موخه ټول اړین ګامونه او تدبیرونه واخلي.
- په شفاف ډول د عملیاتو وروسته د ارزونو ، او د هغو عملیاتو په تعقیب چې په کې د ملکي تلفاتو اتهامات چې نړیوالو امنیتي او یا هم استخباراتي ځواکونو د ښکیلتیا له امله په ځانګړي ډول د بې پیلوټه الوتکو په بمباری کې را منځته شوي د تحقیقاتو د سرته رسولو د باوري کولو په موخه او د حساب ورکولو ، خسارې جبران او د عملیاتي تمریناتو په موخه مناسب ګامونه واخلئ .

